# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
|---|---|

درویش وردک
۲۲ جنوری ۲۰۱۶

## نهم مجلس (دمؤمن په آزمایښت کی)

دجمعی په ورځ سهارد ۵۴۵ هجری قمری کال دشوال دمیاشتی په دوولسمه شیخ عبدالقادر(قدس سره) په مدرسه کی داسی وفرمایل: رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (اِنَّ اللهَ لَایُعَذِّبُ حَبِیْبَهُ وَلَاکِنْ قَدْ یَبْتَلِیْهِ)-«هماغه خدای خپل دوست ته عذاب نه ورکوی، ولی دی آزمایی».

مؤمن ته داثابته ده چی متعال خدای دی نه آزمایی، یوازی دده دمصلحت لپاره، یادنیوی اویا اوخروی، اوپه ټولو بلایاوچی دآزماینی لپاره ورسره مخ شوی، راضی اوپروړاندی یی شکیبا دی، پرته له دی چی کومه ناشکری وکړی اوخدای دځان پروړاندی په بی مهری تورن کړی.

ای هغوکسانوچی ددنیا په ظاهره تیروتلی یاست، تاسوپه خوله ددی مرحلی دترسره کولو(دآزمایښت دوره) مدعی یاست، ولی زړه موغافل دی. تاسو له خدایه اوپیغمبرانو اوددوی دریښتینو پیروانوچی ددوی ځای ناستی دی، مخ اړولی، تاسو دخدای په مقدراتواوغوښتنو معترض یاست، اویوازی موداميد اوتوقع سترګی نوروته نیولی، اودلوی خدای له ورکړو غافل یاست.

دخدای عزّوجلّ اودده دصالحو بنده ګانو پروړاندی دمنلووړ خبره نلری. ترڅوچی ددی ناوړه کړو راونه ګرځی اوتوبه ونکړی اودخدای لوری ته راونه ګرځی اوالهی قضا اوقدرته غاړه کښینږدی، اوبالاخره هرهغه څه چی درته ګران دی یا دښمن دی، درضا په سترګه ونګوری، اوټول دخدای له لوری ونه ګڼی.

(ای قومه) دحق څخه پیروی وکړی ترڅو تاسو هم دمتابعت وړوګرځی. دنورو خدمت وکړی ترڅو دتاسو خدمت هم وشی، قضا اوقدرغاړه کښیږدی ترڅودتاسودخدمت په لاره کی وکارول شی. دمقدراتوپروړاندی تواضع اوسرټیټی غوره کړی، ترڅو هغه هم ستاسوپروړاندی بی ارزښته شی. آیا درسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) ګهرباره وینامو نده اوریدلی چی فرمایی: (کَما تَدِیْنُ تَدَانُ، کَما تَکُونُوایُوَلَّ عَلَیْکُمْ)-« په هرلاس موچی ورکړل په هماغه لاس به یی بیرته اخلی، هرډول چی اوسی په هماغه ډول به دربادی واکمنی وشی».

ستاسو کړه ستاسوکارګزاران دی، حق جلّ واعلی پربنده ګانوستم اوزیاتی نکوی، لرواوډیروته پاداش ورکوی، درست نه نادرست کوی اوریښتینی نه دروغجن کوی.

(ای غلامه) هرکله چی دخدمت وکړ، نوخدمت به دی وکړای شی،دخلکو خدمتگاراوسه. دآمرانو اوپادشاهانو خدمت چی درته هیڅ گټه نه رسوی، تادخلکو له چوپړه ونه باسی. فکرنه کوی چی دوی(آمران) درته څه شی درکولای شی؟ آیا هغه څه چی ستا مقسومه روزی نده؟ درکولای شی؟ یاڅه شی چی خدای درته ندی مقررکړی،دوی کولای شی چی ستا په اختیارکی یی کښیږدی؟ ددوی په لاس کی څه شی نشته.

که ووایی چی ډیربخششونه ددوی لخوا متصوردی، نوپوه شه چی په کفرکی غرق یی. باید پوه شی چی ښونکی اومنع کوونکی، گټه اوزیان رسوونکی، مقدم اوموخر پرته دده له اقدس ذاته بل څوک ندی. اوکه وایی چی پردی پوهیږم ، نوبیاولی عمل نه پری کوی اوسترگی دی نورو ته کړی دی.؟

وای پرتا! حیرانی ده! څرنگه دی دنیا دآخرت په تباهی رانیولی؟ څرنگه دی دشیطان اونفس پیروی دخدای په اطاعت اوفرمانبرادری غوره کړی؟ څرنگه دی خپله تقوی دشکوی اوشکایت پواسطه فاسده کړی؟ آیا خبرنه یی چی لوی خدای دپرهیزکارانو ساتونکی اوملگری دی؟ اودوی له هرنیش نه ساتی، اودخپلی پیژندنی خواته یی رهنمایی کوی، اودنفس له بدیو یی ساتی؟ آیا نه پوهیری چی خدای په زړونو خبردی، اوروزی ورکوونکی دی له هغه ځایه چی فکریی هم نشی کولای.

لوی خدای دگران پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) په مبارکه ژبه داسی فرمایی:( **یا ابن آدم استحی منی کما تستحیی من جارک الصالح**)-« ای دآدم زویه له ماڅخه شرم وکړه،داسی چی دخپل نیکو کاره گاونډی څخه شرم کوی»

**«اِذا اَغْلَقَ الْعَبْدُ اَبْوابَهُ، وَ اَرْخَى اَسْتارَهُ، وَاخْتَفى مِنَ الْخَلْقِ، وَخَلا بِمَعآصِى اللهِ عَزَّوَجَلَّ: يَا ابْنَ آدَمُ جَعَلْتَنِى اَهْوَنَ النَّاظِرِيْنَ اِلَيْکَ؟».**

«هرکله که بنده په ځان پسی دروازی وتړلی، پردی یی واچولی اوځان یی له خلکو پټ کړ، اوپه گناه یی لاس پوری کړ، پدی حال کی لوی خدای فرمایی: ای بنی آدمه ! زه دی ترټولو آسانه شاهدپرخپلو کړو وټاکلم»

**رَبَّنا آتِنا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَّا عَذابَ النَّارِ.!**